| | |
|---|---|
| فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا<br>د نشر نېټه ۱۲ فبرورى ۲۰۱۳م |  |

# پکتياوال زده کوونکي په ښوونځيو کې د درسي موادو ځنډېدو انديښمن کړي!

پکتياوال زده کوونکي په ښوونځيو کې د روان کال لپاره د درسي موادو په خپل وخت ورته نه رسيدو انديښمن کړي او وايي د تېر کال په پرتله به بيا هم درسي مواد ورته ناوخته او ځنډني ورسيږي.
دوئ په دې کار کې دځنډ لامل د چارواکو بې غوري بولي او زياتوي که درسي مواد ورته په وخت و نه رسيږي نو؛ له سختو کړاوونو سره به مخ شي.
دوی له اړونده مسوولينو غوښتنه کوي چې د درسي موادو په ويش کې بيړني ګامونه واخلي.
د عبدالحی ګرديزي ليسې زده کوونکی شفيق الله رسنيوته وويل: ژمی په وتو دی په ښوونځي کې ورته کتابونه نه دي ورکړل شوي،چې په عين وخت کې ګټه ترې واخلي.
دی وايي ګودامونه ترې ډک دي خو د ښوونځي مسوولين يې يوې نه بلې ورځې ته تېر باسي.
نوموړی وايي ((مياشت په وتو ده مونږ ته په ښوونځي کې کتابونه نه دي راکړل شوي ګدامونه ترې ډک دي خو د ښوونځي مسوولين د تحويلدار په نه شتون مو يوې نه بلې ورځې ته تېر باسي بايد ،چې په ژمي کې يې کتابونه راکړي وای اود نوي کال لپاره مې تياری نيولی وی.))

نجیب چې د خمکنیو د عالي لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکی دی د
قرطاسیي ورته نه رسیدل اود  کتابونوځنډ اندیښمن کړی وایي که قرطاسیه ورته
ونه رسیږي له بازاره  به یې وپیري؛خو کتابونه دې ورته په وخت ورسوي .
دی وایي ((په خپل وخت راته کتابونه نه دي رسیدلي تېر کال هم ځنډمن شول.
قرطاسیه خو دا دوه کاله کیږي،چې نه ده راکړل شوې باک یې نشته هغه به له
بازاره واخلو خو کتابونه دې په خپل وخت راکړل شي.))
زده کوونکی نجیب دا کار د پوهنې ریاست مسولیت ګڼي چې په خبره یې د دې
ستونزې حل پیداکړي.
نوموړی له اړونده چارواکو او اداروغوښتنه کوي چې د کتابونو په لېږد کې  ورته
وختي هڅې وکړي.
نوموړي په چارواکوغږ وکړ،چې په دې کار کې بیړني ګامونه واخلي ترڅو د
راتلونکي کانکورازموینې ته تیاری ونیسي.
د نجیب په اند که کتابونه ورته وختي و نه رسیږي ښایي له سختو ستونزو سره
به مخ شي.
د پوهنې ریس محراب الدین شفق رسنیور سره په یوه ځانګړې مرکه کې د زده
کوونکو ستونزې مني او وایي ،چې په ښوونځیو کې د زده کوونکو لپاره د درسي
موادو د وېش تیاری یې نیولی دی.
 ده وویل د نوي نصاب کتابونه چې تېرکال زده کوونکوته نه وو ورکړل شوي د نورو
درسي موادو د ترځنګ به پرې وویشل شي.
شفق وایي تېرکال د دریم ټولګیو زده کوونکولپاره  قرطاسیه هم نه وه ورکړل
شوې،چې په وینا یې سږکال به دا ستونزه هم هواره شي.
شفق زیاتوي ((د نوي نصاب کتابونه تېرکال زده کوونکوته نه وو ورکړل شوي،
همدارنګه تېرکال قرطاسیه هم دریم ټولګیو زده کوونکوته نه وه ورکړل شوې د
نورو درسي موادو د ترځنګ به  پرې وویشل شي.))
دا،چې روان کال به بیاهم پکتیاوالو زده کوونکو ته د تېرکال په څېرله ستونزو او
کړاوونو ډک وي او ایا؟ دوئ ته به په خپل وخت په ښوونځیو کې درسي مواد
ورسیږي دا هغه پوښتنې دي ،چې ځوابونه به یې راتلونکی ورکوي.

**فرید احمد « تسکین » ـ  پکتیا**

بازگشت به صفحه اصلی   -   www.said-afghani.org